# امن معاهده

په شلم اپرېل 2008 په پېښور کښې د صوبائي حکومت او د تحریک نفاذ شریعت محمدي د منتظمینو ترمنځه یوه معاهده وشوه. چې په کښې حکومت او د دغې تحریک مرکزي او ضلعي منتظمینو د دې خبرې پخلے وکړو چې په ملاکنډ ډویژن کښې د شرخوښو د لاسه موجوده د خطرناک حد پورې خراب شوي امن و امان دپاره څۀ امن ناکه لارې چارې ولټولے شي. په دې صورتحال کښې عام اوسېدونکي د ډېرو مشکلاتو سره مخ دي، د هیچا مال او ځان محفوظ نۀ دے. بې ګناه خلق په سرتېره حملو کښې مړۀ کېږي، په حکومتي ادارو حملې کولې شي. دغه شرخوښي د انساني او اخلاقي قدرونو ښکاره خلاف ورزي کوي. په داسې حال کښې د معاشرې د ټولو طبقو ذمه واري جوړېږي چې هغوي یو شي او سماج دشمنه او شر خوښونکي خلق ختم کړي. په دې غرض د صوبائي حکومت او تحریک نفاذ شریعت محمدي ترمینځ دا معاهده وشوه:

- د محمدي شریعت د نفاذ دپاره جدوجهد کول د هر مسلمان فرض دي او دا تنظیم د خپلې دې ارادې اعاده کوي چې د شریعت د نفاذ دپاره به پرامنه جدوجهد جاري ساتي.
- دا تنظیم د پاکستان د حکومت او ریاستي ادارو د مکمل احترام کولو اعاده کوي چې په ملاکنډ کښې خصوصاً او په پښتونخوا کښې عموماً مکمل امن او د حکومت عملداري قائمه شي.
- هغه ټول قوتونه چې د حکومت، ریاستي ادارو یعنې فوج، پولیس او نورو سرکاري اهلکارو باندې حملې کوي او سرکاري عمارتونو ته نقصان رسوي یا د ریاست خلاف غلطه پروپېګنډه کوي د تنظیم د هغوي سره هیڅ تعلق نشته او د داسې ټولو شر خوښو قوتونو په سختو ټکو کښې غندنه کوي کوم چې سرکاري اهلکارو او عوامو باندې حملې کوي او نقصان ورته رسوي یا په خلقو کښې ویره ترهه خوروي. پولیس واله او فوجیان او نور سرکاري خلق زمونږ ورونړه دي او د دوي خلاف کارروائي کول د اسلام ښکاره خلاف ورزي ده.
- د ملاکنډ تحریک نفاذ شریعت محمدي دا اعلان کوي چې د شریعت د نفاذ دپاره د پرامنه تبلیغ، مشاورت او مذاکراتو ضرورت دے او د شریعت د نفاذ دپاره د

امن، مینې او ورورولۍ نه علاوه بله لاره نشته.

- د معاشرې د ټولو غړو کۀ د هر مکتب فکر سره تعلق لري دا فرض جوړېږي چې د شرخوښو خلاف د حکومت په عملدارۍ او امن قائمولو کښې پوره پوره مرسته وکړي چې د عام اولس ځان او مال محفوظ شي او دوي خپل کاروبارونه شروع کړي او یوه امن ناکه فضا ورته پېدا شي.
- د مستقل امن د بحالۍ او د اولس د تحفظ دپاره به صوبائي حکومت د سرکاري ادارو او مقامي انتظامیې سره مکمل تعاون کوي چې د عوامو د ځان او مال تحفظ وشي او یو سوکاله ژوند شروع کړي.
- په اخره کښې مونږ دواړه ډلې د دې خبرې اعلان کوو چې مونږ د حکومت عملداري او امن غواړو او چې کوم خلق بدامني پېدا کول غواړي هغوي به د مذاکراتو او خبرو اترو په ذریعه د امن په لور رابلو. بیا هم کۀ هغوي د شر شیدت نه منع نۀ شو نو د هغوي خلاف به د کارروایۍ اختیار لرو.

په دې معاهده دې مشرانو دستخطونه کړي دي:

مولانا محمد عالم امیر ملاکنډ ډویژن

مولانا عبدالحق امیر د سوات ضلعې

مولانا بادشاه زیب د دیر بالا

مولانا سمیع الله د دیر پائین

مولانا سالار خان ضلع بونېر

ډاکټر اسماعیل امیر باجوړ اېجنسي

سیف الملوک ضلع بونېر ناظم

ملتان میر ملاکنډ اېجنسي ناظم اطلاعات

مولانا سمیع الله بونېر

افراسیاب خټک صدر عوامي نېشنل پارټي

بشیر احمد بلور سینئیر وزیر لوکل ګورنمنټ

رحیم داد خان سینئیر وزیر پلاننګ اېنډ ډیولپمنټ

واجد علي خان وزیر ماحولیات

د دستخطونو عکس

